برېښنايي پېژندګڼه: ۲۷۸۹ - ۱۸۸۷
چاپي پېژندګڼه: ۲۷۸۹ - ۱۸۷۹
د ترلاسه کېدو نېټه: ۱۰ / ۷ / ۱۴۰۳
د منل کېدو نېټه: ۲۵/ ۱۲/ ۱۴۰۳
رڼا څېړنيز - علمي ژورنال، اتمه دوره، ۴ ګڼه، ۱٤۰۳ ژمی

# په اسلامي امت باندې د ناوړه اخلاقو؛ کورنۍ، ټولنيزې او اقتصادي اغېزې

دکتور اصحاب الله اواب[۱]

**لنډيز**

په اوسني عصر کې اسلامي امت له ډېرو ستونزو سره مخ دی، چې له دې جملې څخه يوه ناوړه اخلاق دي. بداخلاقي پر فرد او ټولنې باندې ډېرې زيانمنوونکې کورنۍ، ټولنيزې او اقتصادي اغېزې لري، چې دا اغېزې په ډېرو مواردو کې څرګندېږي، لکه: ناوړه مشران او پيشوايان، بد شهرت، د نورو د عزت سپکاوی، د الله تعالی د عذاب نازلېدل، کرکه او بغض، د ټولنيزو اړيکو پرېکېدل، ټولنيز خيانت، د عوايدو کمښت، بې‌روزګاري، د توليد کمښت، د مال ضايع کېدل او داسې نور. دا کار ډېر اسباب او لاملونه لري. د څېړونکي په اند، لوړی او تر ټولو ژور او بنسټيز لامل يې جهل او د تعليم په سمه توګه نه‌شتون دی. په دې څېړنه کې به د اسلامي نصوصو، يعنې قرآن کريم، سنت نبوي او د علماوو کرامو د ويناوو په رڼا کې هغو ناوړه اخلاقو ته اشاره وشي چې په اسلامي امت باندې د بداخلاقۍ کورنۍ، ټولنيزې او اقتصادي اغېزې انځوروي.

**کليدي کلمې:** اخلاق، اقتصادي، امت، اغيزې، ټولنيزې، کورنۍ، ناوړه

---

[۱] د کابل پوهنتون علمي کادري غړی

ISSN: p 2789 - 1879
ISSN: e 2789 - 1887

Received: 1 / 10 / 2024
Accepted: 15 / 03 / 2025 *Rana Academic & Research Journal – Volume 8, Issue 04 (2025)*

# The Family, Social and Economic Impacts of Immorality on the Islamic Ummah

Ashabullah Owab Ph.D [1]

## Abstract

In the present era, the Islamic Ummah faces numerous challenges, one of which is widespread immorality. Immoral behavior has a detrimental impact on both individuals and society, leading to numerous harmful family, social, and economic effects. These consequences manifest in various ways, including poor leadership and relationships, damaged reputations, disrespect for the dignity of others, the punishment of Allah Almighty, hatred and enmity, the breakdown of social ties, social betrayal, loss of income, unemployment, reduced production, and the squandering of wealth. These issues stem from several causes, with the researcher identifying ignorance and the lack of proper education as the most profound and fundamental root causes. This study will highlight, in the light of Islamic texts—specifically the Holy Quran, the Sunnah of the Prophet, and the sayings of esteemed scholars—the immoral behaviors that portray the family, social, and economic consequences of immorality within the Islamic Ummah.

**Keywords:** ethics, economy, community, effects, social, family, immorality

1– Faculty Member of Kabul University

**سریزه**

ناوړه اخلاق په فرد او ټولنه باندې ډېرې بدې اغېزې لري او دا اغېزې په ډېرو مواردو کې راڅرګندېږي، لکه: د کينې او حسد راټوکېدل، د ټولنې څواک له منځه وړل، د دښمنۍ او کرکې زېږول، د ټولنې ناامنه کول، د پانګونې او اقتصاد کمزوري کول، او داسې نور. د بد اخلاقۍ د ناوړه اغېزو اړوند، د اسلام په سترو سرچينو ــ قرآن کريم او نبوي سنت ــ کې د عبرت څخه ډکې پېښې بيان شوې دي. د بېلګې په ډول: کله چې قارون د جبر، تېري او سرکښۍ تر عنوان لاندې بداخلاقي ترسره کوله، نو د همدې له امله الله ﷻ هغه په ځمکه کې ښخ کړ. الله تعالی فرمايلي دي: ﴿فَخَسَفْنَا بِهِ وَ بِدَارِهِ الْأَرْضَ فَمَاكَانَ لَهُ مِنْ فِئَةٍ يَّنْصُرُوْنَهُ مِنْ دُوْنِ اللَّهِ وَمَاكَانَ مِنَ الْمُنْتَصِرِيْنَ﴾ (سوره القصص، آيت ۸۱).

ژباړه: بيا مو قارون او د هغه استوګنځای په ځمکه خښ کړ او داسې هيڅ ډله نه وه چې هغه د الله ﷻ له عذاب څخه ژغورلی وی، او نه يې ځان وژغورلی شو. د هغه کلي په هکله چې الله ﷻ پرې نعمتونه کړي ول، او هغوی ترې ګټه پورته کوله، خو ناشکري يې وکړه، نو د دې بد اخلاقۍ له امله هلاک شول، الله جل جلاله فرمايلي دي: ﴿وَضَرَبَ اللَّهُ مَثَلاً قَرْيَةً كَانَتْ أمِنَةً مُطْمَئِنَّةً يَأْتِيْهَا رِزْقُهَا رغدا مَنْ كُلِّ مَكَانٍ فَكَفَرَتْ بِأَنْعُمِ اللَّهِ فَأَذَاقَهَا اللَّهُ لِبَاسَ الْجُوعِ وَالْخَوْفِ بِمَاكَانُوْا يَصْنَعُوْنَ﴾ (سوره النحل، آيت ۱۱۲). ژباړه: الله ﷻ د يو کلي د خلکو عجيبه کيسه بيانوي، چې هغوی ډېر په امن او اطمينان سره اوسېدل او له هرې خوا ورته خوراک او څښاک رسېده، هغوی د الله ﷻ د نعمتونو ناشکري وکړه، الله ﷻ د هغوی د کړنو (ناشکرۍ) له امله پرې د وچکالۍ او وېرې مزه وڅکله. په دې څېړنه کې هغه ناوړه اخلاقو ته اشاره شوې چې په اسلامي امت باندې د بد اخلاقۍ اغېزې انځوروي، لکه: کورنۍ، ټولنيزې او اقتصادي اغېزې.

**د څېړنې پوښتنې**

دا څېړنه به لاندې پوښتنو ته ځواب ووايي:

- بد اخلاقي څه ته ويل کېږي؟
- پر اسلامي امت د ناوړه اخلاقو موارد او اصول څه شی دي؟
- د ناوړه او بد اخلاقو کورنۍ، ټولنيزې او اقتصادي اغېزې کومې دي؟

**د څېړنې اهميت**

په اسلام کې د ناوړه اخلاقو پېژندل د هغو مهمو موضوعاتو څخه شمېرل کېږي، چې په هر مسلمان باندې لازمه ده ځان پرې وپوهوي. دا ځکه چې که موږ بد اخلاق، د هغې لاملونه او موارد و نه پېژنو، نو لرې نه ده چې پخپله به پکې ښکېل شو. له همدې کبله اړينه ده چې ځان پرې وپوهوو.

**د څېړنې موخې**

په هغه موضوعاتو کې چې له ديني مسايلو سره تړاو لري، تر ټولو لوی هدف او موخه د اسلامي دين خدمت ګڼل کېږي. دويم قدم کې بيا هغه ځانګړي هدفونه راځي، چې څېړونکي د موضوع د انتخاب پر مهال تصور کړي وي؛ نو زما موخه هم د دې ليکنې څخه، لومړی د اسلامي دين خدمت، او دويم د مسلمانانو راويښول او بيدارول دي، تر څو کوم مسلمان د ناوړه او بدو اخلاقو ښکار نه شي.

**د څېړنې شاليد**

د دغې موضوع په اړه، يعنې "په اسلامي امت باندې د ناوړه اخلاقو اغېزې" تر عنوان لاندې، په بېلابېلو ژبو ليکنې شوې دي. البته، تر کومه چې زما معلومات رسېږي، په پښتو ژبه کې داسې کومه ليکنه نه ده تر سترګو شوې. دلته څينو عربي اثارو ته په لنډ ډول اشاره کوو:

۱) مساوئ الأخلاق وأثرها على الأمة الإسلامية، مؤلف: خالد بن حامد الحازمي.

۲) مساوئ الأخلاق ومذمومها، مؤلف: ابوبکر محمد بن جعفر الخرائطي.

۳) سوء الخلق مظاهره، أسبابه، علاجه، مؤلف: محمد بن إبراهيم الحمد.

پټه دې نه وي چې دا ټولې لیکنې په عربي ژبه کې لیکل شوي دي، چې ځینې یې د کتابونو په بڼه دي او ځینې بیا په وېبپاڼو کې خپرې شوې دي. خو اوسنۍ لیکنه په پښتو ژبه د یوې علمي مقالې په بڼه وړاندې کېږي.

## د څېړنې میتود

د دې علمي مقالې تګلاره تحلیلي او استنباطي ده، په دې معنا چې هڅه شوې ده موضوع له عقلي او نقلي اړخونو څخه وڅېړل شي، او د اسلام له سپېڅلي دین څخه د شواهدو، متونو او اصولو پر بنسټ استنباط وشي .په مقاله کې کوښښ شوی، چې لومړی د بد اخلاقۍ پېژندنه او اړوند مفاهیم واضح شي، وروسته بیا د ناوړه اخلاقو مختلف موارد وپېژندل شي، او نهایتاً دا تشریح شي چې دغه ناوړه اخلاق د اسلامي امت پر فرد، کورنۍ، ټولنه او عمومي وضعیت څه ډول منفي اغېزې لري .په تحلیلي تګلاره کې موضوعات په منطقي او مرحله وار ډول تحلیل شوي او په استنباطي تګلاره کې د قرآن کریم د آیتونو، نبوي احادیثو او د علماوو له اقوالو څخه د موضوع د علمي بنسټونو د قوي کولو لپاره استنباط شوی دی.

## ۱.د موضوع اړوند عمومي معلومات

مخکې له دې چې اصلي بحث ته داخل شو، اړینه ده چې لومړی د بدو او ناوړه اخلاقو مفهوم، ځانګړنې او بنسټیز اصول وپېژندل شي. وروسته له هغه به د اسلامي امت پر ژوند د ناوړه اخلاقو اغېزې وڅېړل شي، چې په درېیو عمده بڼو ــ کورنۍ، ټولنیزې او اقتصادي اغېزې ــ تمرکز کوي. دغه څېړنه به دا څرګنده کړي چې بداخلاقي نه یوازې د فرد شخصیت ته زیان رسوي، بلکې د ټولنې ثبات، یووالي او پرمختګ ته هم جدي ګواښ دی.

### ۱/۱ د ناوړه اخلاقو مفهوم

ابن حجر (رح) وایي: اخلاق هغو خویونو ته ویل کېږي، چې له نورو سره پرې تعامل (راشه درشه، راکړه ورکړه) کېږي که ښه وي او که بد (ابن‌حجر، ج۱۰: ٤٥٦) ناوړه اخلاق د عربي ژبې له اصطلاح "سوء الخلق" څخه پښتو ته ژباړل شوي دي. په لغت کې "ناوړه" د عربۍ "السُّوء" مصدر دی، چې له ساء – یسوء – سوءاً فعل څخه اخیستل شوی. ابن منظور وایي: "السوء: هو القُبح، وهو ضد الحُسن" (ابن‌منظور، ج۱: ۹٦) ژباړه: "سوء" بد او ناوړه ته ویل کېږي، چې د ښایسته والي یا "حُسن" ضد معنا لري. همدارنګه، کلمې لکه "السَّیِّئَة" ګناه ته ویل کېږي، او "السوأة" او "السّوَاء" هر هغه قبیح او ناوړه صفت ته اطلاقېږي، او هره ناوړه او بده کلمه سوَاء بلل کېږي. په اصطلاح کې ناوړه اخلاق داسې تعریفېږي: "الخلق السیئ: هو کلُّ صفةٍ قبیحةٍ سواء کانت قولیةً أو فعلیةً أو اعتقادیة." (الحازمي، ۱٤۱۸: ۱۲) ژباړه: "ناوړه اخلاق عبارت دي له هر بد او قبیح صفت څخه، که هغه قولي وي، که فعلي، او که اعتقادي." د پورته لغوي او اصطلاحي تعریفونو له مخې دا څرګندېږي، چې د نورو انسانانو سره بد او ناسم چلند، که هغه د خبرو، کړنو یا عقیدې له لارې وي، د ناوړه اخلاقو په کتار کې راځي. د بېلګې په ډول: قولي ناوړه اخلاق: بد ژبتوب، کنځل، غیبت، تحقیر. فعلي ناوړه اخلاق: په لاس بل ته ضرر رسول، ناوړه اشاره کول، جاسوسي کول. اعتقادي ناوړه اخلاق: حسد، کینه، تعصب، بغض.



### ۱/۲ د ناوړه اخلاقو بنسټونه او اصول

د ناوړه اخلاقو د اصولو او اساسي سرچینو په اړه د اسلامي علماو ترمنځ بېلابېل نظرونه موجود دي، چې هر یو یې د خپلې تجربې او ژور فکر پر بنسټ د بداخلاقۍ ریښې بیان کړې دي. د بېلګې په توګه، مجاهد(رح) وایي: "مبدأ سوء الأخلاق: الشهوة والغضب" (ابن منظور، ج ۱۱: ۱۲۹). ژباړه: د ناوړه اخلاقو بنسټ شهوت او غضب دی. ابن قیم الجوزیه رحمه الله د ناوړه اخلاقو بنسټونه څلور ګڼي: "أصول الأخلاق السیئة أربعة: الجهل، والظلم، والشهوة، والغضب" (ابن قیم، ج۲: ۳۲۱).

ژباړه: د ناوړه اخلاقو اصول او اساسات څلور دي: جهل، ظلم، شهوت او غضب. ابن حزم رحمه الله بیا د بدو اخلاقو اصلي سرچینې داسې بیانوي: "أصول الأخلاق المذمومة التي تولد عنها سائر الأخلاق الذمیمة: الظلم،

الجهل، الجبن، والبخل" (ابن حزم، ۱٤۰۸: ۵۹۰). ژباړه: د بدو اخلاقو اصول، چې نور ټول ناوړه اخلاق ترې زېږي، عبارت دي له: ظلم، جهل، بوږدلی (جبن) او بخل. د پورته اقوالو او معلوماتو په رڼا کې دې پايلې ته رسېدای شو، چې د ناوړه اخلاقو تر ټولو مهم بنسټونه عبارت دي له: شهوت- غضب- جهل- ظلم- بخل او بزدلي څخه. همدا سرچينې دي چې د انسان په چلند، عقيدې او خوی کې بدلون راولي او د بدو اخلاقو زېږوونکي گرځي.

## ۲. د ناوړه اخلاقو کورنۍ اغېزې

د کورنۍ غړي په مستقيم ډول د ناوړه اخلاقو تر اغېز لاندې راځي، ځکه کورنۍ يو داسې چاپېريال دی چې غړي يې په دوامداره توگه له يوبل سره اړيکې او اوږده استوگنه لري، همدا راز په کورنۍ کې بيا ستر مسؤوليتونه هم د غړو په غاړه وي، رسول ﷺ د کورنۍ د غړو مسؤوليت داسې بيان کړی دی: «كُلُّكُمْ رَاعٍ، وكُلُّكُمْ مَسْئُولٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ، الإِمَامُ رَاعٍ وَمَسْئُولٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ، وَالرَّجُلُ رَاعٍ فِي أَهْلِهِ وَهُوَ مَسْئُولٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ، وَالمَرْأَةُ رَاعِيَةٌ فِي بَيْتِ زَوْجِهَا وَمَسْئُولَةٌ عَنْ رَعِيَّتِهَا، وَالخَادِمُ رَاعٍ فِي مَالِ سَيِّدِهِ وَمَسْئُولٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ» قَالَ: - وَحَسِبْتُ أَنْ قَدْ قَالَ - «وَالرَّجُلُ رَاعٍ فِي مَالِ أَبِيهِ وَمَسْئُولٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ، وكُلُّكُمْ رَاعٍ وَمَسْئُولٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ» (بخاري، ۱٤۰۰، ج ۱: ۲۸٤).

ژباړه: تاسو هر يو د شپونکي په څېر ياست، او هر يو مو د خپل رعيت په هکله پوښتل کېږي، سړی د خپلې کورنۍ شپونکی (ساتونکی) دی، د خپل رعيت په هکله پوښتل کېږي، مېرمنه د خپل مېړه په کور کې د شپونکې په څېر ده او هغه د خپل رعيت په هکله پوښتل کېږي، خدمت گار د خپل مالك په مال کې د شپونکي په څېر ده او هغه د خپل رعيت په هکله پوښتل کېږي، راوي وايي: گمان کوم چې رسول الله ﷺ داسې وويل: سړی د خپل پلار په مال کې شپونکی دی او هغه د خپل رعيت په هکله پوښتل کېږي، تاسو هر يو د شپونکي په څېر ياست او يو هر د خپل رعيت په اړه پوښتل کېږي. تر ټولو اړينې منفي اغېزې چې د بدو اخلاقو په پايله کې په کورنۍ را څرگندېږي، په لاندې ډول دي:

### ۲/۱ د مسؤليتونو ډېرښت

لومړی هغه څه چې کورنۍ د اخلاقي نيمگړتياوو له امله اغېزمنوي، د مسؤليتونو ډېرښت او ورسره بدني، فزيکي کړاوونه او رواني رنځونه دي. دا يوازې هغه کسان ښه درک کولای شي، چې ورسره مخ شوي وي. لکه: غلا، دښمني، زنا، لواط، نشه‌يي توکو کارول، غصب، تزوير او جعل‌کاري، بغاوت، نافرماني، دروغ ويل، او د ورونو ترمنځ شخړې. دا ټول هغه منفي عوامل دي چې کورنۍ د خپلو ناوړه اغېزو لاندې راولي. د دې درملنه يوازې د روزنيز مسؤليت د پياوړتيا له لارې شونې ده (نايف، بې نېټه: ۷۰).

### ۲/۲ ناوړه الگو او پيشوا

ښکاره ده چې د کورنۍ د غړو ترمنځ متقابل تعامل او گډ ژوند، که سالم نه وي، د اخلاقي ستونزو د زېږېدو لامل گرځي. کله کله د کورنۍ ځينې مفسده او بداخلاقه غړي په نورو غړو منفي اغېز کوي، چې له امله يې يوه مسلمانه کورنۍ خپل سالم روزنيز مسير له لاسه ورکوي. په اسلامي لارښوونو کې د بدې قدوې يا الگو ديني او اخلاقي خطرونه په ډاگه شوي دي، لکه څرنگه چې الله جل جلاله فرمايي: (وَإِذَا قِيلَ لَهُمُ اتَّبِعُوا مَا أَنْزَلَ اللَّهُ قَالُوا بَلْ نَتَّبِعُ مَا وَجَدْنَا عَلَيْهِ آبَاءَنَا أَوَلَوْ كَانَ الشَّيْطَانُ يَدْعُوهُمْ إِلَىٰ عَذَابِ السَّعِيرِ) (سوره لقمان، آيت ۲۱).

ژباړه: کله چې هغوی ته وويل شي چې تاسو د هغه څه پيروي وکړئ چې الله نازل کړي دي، هغوی وايي: موږ د هغه څه پيروي کوو چې زموږ پلرونو کړي دي، آيا دوی د پلرونو پيروي کوي، اگر که شيطان هغوی د سېزونکي عذاب لور ته را بولي؟ رسول الله ﷺ هم د بدې الگې خطرناکې پايلې بيان کړې دي، لکه فرمايي: "من سنَّ في الإسلام سُنَّةً سيئةً كان عليه وزرُها ووزرُ من عمل بها من بعده من غير أن ينقصَ من أوزارهم شيءٌ" (مسلم، ج۲: ۷۰۵).

ژباړه: څوك چې په اسلام کې بده لاره جوړه کړي، د هغې گناه به د هغه په غاړه وي، او د هغه چا گناه به هم د ده په غاړه وي چې له هغه وروسته پرې عمل کوي، پرته له دې چې د هغوی له گناه څه کم شي. دغه ارشادات د بدې قدوې خطرونه او هغه گناهونه څرگندوي چې تر ډېره د انسان د اعمالو د دوام له امله يې ځښتن ته رسېږي. د دې

ناوړه اغېزو د مخنيوي يوازينۍ لاره دا ده چې انسان له الله ﷻ څخه مرسته وغواړي، د هغه لارښوونې تعقيب کړي، او د خپل ژوند ټول اړخونه د شريعت له اصولو سره سم تنظيم کړي. له دې پرته د خلاصون بله لاره نشته.

### ۲/۳ ناوړه شهرت

بد شهرت په کورنۍ کې د وګړو د انحراف له امله رامنځته کېږي، چې دا شهرت بيا خپلې بدې ټولنيزې او روزنېزې پايلې او اغېزې لري. دا چې بد شهرت په مور او پلار او د هغوی پر بچيانو بدې رواني اغېزې لري، د کورنيو دنده ده چې د اسلامي منهج او تګلارې د پلي کولو له لارې د هغو ناوړه اغېزو مخنيوی وکړي چې د هغه او د ټولنې لپاره د اخلاقي خرابۍ او آفتونو لامل کېږي. د انسان برياليتوب په اسلامي روزنه کې دی، همدا روزنه ده چې انسان له انحرافاتو څخه ژغوري، د بېلګې په توګه د الله ﷻ دې وينا ته ځير شو، چې فرمايي: (يَا نِسَاءَ النَّبِيِّ لَسْتُنَّ كَأَحَدٍ مِنَ النِّسَاءِ إِنِ اتَّقَيْتُنَّ فَلَا تَخْضَعْنَ بِالْقَوْلِ فَيَطْمَعَ الَّذِي فِي قَلْبِهِ مَرَضٌ وَقُلْنَ قَوْلًا مَعْرُوفًا) (سوره الاحزاب، آيه ۳۲). ژباړه: ای د پيغمبر ﷺ مېرمنو! که چېرې تقوی وکړئ، تاسې د نورو مېرمنو په شان نه ياست، په دې بنسټ په خبرو کولو کې له نرمښت څخه کار مه اخلئ (ژوېلې خبرې مه کوئ)، تر څو هغه څوک چې د زړه رنځ لري طمع پيدا نه کړي، او تاسو ښه وينا وکړئ. په دې آيت کې دا بيان شوي، چې: د ځينو مغرضو وګړو په زړونو کې د طمع پيدا کېدو مخکې الله ﷻ دې مېرمنو ته ورزده کوي چې څنګه د هغوی څخه ځان وژغوري.

### ۲/۴ کرکه او بېلتون

د کورنۍ وګړو ترمنځ غيبت، نمامي او د کينې شتون او خپربدل يې، د د کرکې، بېلتون او د اړيکو د پرېکېدو لامل ګرځي، رسول الله صلی الله عليه وسلم د اړيکو پرېکولو په هکله فرمايي: «الرَّحِمُ مُعَلَّقَةٌ بِالْعَرْشِ تَقُولُ مَنْ وَصَلَنِي وَصَلَهُ اللهُ، وَمَنْ قَطَعَنِي قَطَعَهُ اللهُ» (بخاري ۱٤۰۰، ج٤: ۹۵). ژباړه: خپلوي په عرش پورې نښتې ده او وايي چا چې زه وپاللم الله تعالی به يې د خپل رحمت سره پيوسته کړي او چا چې زه پرې کړم، الله تعالی به يې د خپل رحمت څخه پرې کړي. همدارنګه د خپلوۍ پالل د رزق پراخۍ او د عمر برکت سبب ګرځي، څنګه چې رسول الله ﷺفرمايلي دي: «مَنْ أَحَبَّ أَنْ يُبْسَطَ لَهُ فِي رِزْقِهِ، وَيُنْسَأَ لَهُ فِي أَثَرِهِ، فَلْيَصِلْ رَحِمَهُ» (مسلم، بې نېټه، ج۴: ۱۹۸۲). ژباړه: که څوک غواړي چې رزق يې پراخه او عمر يې ډېر شي (نېټه يې وروسته شي) نو خپلوي دې وپالي. په دې توګه د خپلوۍ اړيکو پرې کول د ټولنې پر غړو ناوړه اغېزې لري، چې په پايله کې يې دوی ته ټولنيز، مادي، رواني او داسې نور خطرناک زيانونه رسېدای شي. نو له همدې امله په مسلمانو کورنيو لازمه ده چې د يووالي او اړيکو ساتلو لپاره هڅې وکړي او له هر ډول اسلامي روزنيزو تګلارو او لارښوونو څخه په ګټې اخيستنې سره، چې ممکن وي، د کرکې او پرېکون مخه ونيسي.

### ۲/۵ د ودونو ځنډ

د کورنيو له لوري د خپلو بچيانو ودونو کې ځنډ رامنځته کول د ځينو ناوړه اخلاقو د شتون له امله دي. دا ناوړه اخلاق يا د پيسو بې ځايه لګښت، د شرابو او نورو مخدره توکو کارول، د حرامو له لارې جنسي غريزه پوره کول، د دخانياتو کارول، د دودونو او بې ځايه رواجونو شتون او داسې نورې ناوړه کړنې دي. د ودونو د ځنډ بدې پايلې ځينې په لاندې توګه دي. (الحازمي، ۱٤۱۸: ۱۰).

۱) د رسول الله ﷺ په وصيت کې چې ځوانانو ته يې کړی دی، په ودونو کې ځنډ نه راوستل دي، لکه چې فرمايي: «يا معشر الشباب! من استطاع منكم الباءة فليتزوج، فإنه أغض للبصر وأحصن للفرج» (بخاري، ۱٤۰۰، ج۳: ۳۵۵). ژباړه: ای ځوانانو! له تاسو څخه چې څوک د واده کولو توان لري، بايد واده وکړي، ځکه دا د سترګو ښه ښکته کوونکی او د شرمګاه لپاره ښه ساتونکی دی. ۲) د هغو لارو نه بندېدل چې په حرامو کې د اخته کېدو لامل کېږي، لکه: زنا، نامحرمو ته کتل او داسې نور. ۳) د اولاد په پيدا کولو او د مسلمان نسل په زياتولو کې چې رسول ﷺبه پرې د قيامت په ورځ فخر کوي، رسول الله ﷺفرمايلي دي: «تزوجوا الولود الودود، فإني مكاثر بكم الأمم يوم القيامة» (مسلم، بې نېټه، ج۳: ۱۳۰٦). ژباړه: داسې چا سره نکاح وکړئ چې ډېر اولادونه زېږوي او ښايسته اخلاق

ولري، ځکه زه ستاسې د ډېروالي په وجه په نورو امتونو باندې فخر کوم. ۴) د پېغلو نجونو د سپکاوي او د هغوی د ودونو د تاخیر لامل هم کېدای شي.

### ۲/۶ د نورو د عزت سپکاوی

ناوړه اخلاق د نورو د عزت د پایمال کېدو او همدا راز د نسل د خرابېدو لامل کېږي، ځکه کله چې د جنسي انحرافاتو په پایله کې، د انسان له لوري د ناوړه او ناروا غریزې د مړولو له لارې ماشوم پیدا شي، نو له دې کبله نشي کولای چې ځان ورته منسوب کړي رسول الله ﷺفرمایلي دي: "فإن دماءكم وأموالَكم وأعراضَكم عليكم حرامٌ كحرمةِ يومِكم هذا في شهرِكم هذا في بلدِكم هذا، فلْيُبلغِ الشاهدُ الغائبَ" (مسلم، بې نېټه، ج۳: ۱۳۰۶). ژباړه: پر یو بل ستاسو وینې، شتمنی او عزت حرام دي، لکه څنګه چې نن ورځ، دا میاشت او دا ښار حرام دي، نو دا خبره دې حاضر خلک غیرحاضرو ته ورسوي. تر هغو چې د اسلامي روزنې له لارې د اخلاقي فسادونو مخه ونه نیول شي، کورنۍ ارامې او خوندي نشي پاتې کېدای. له همدې امله اسلامي روزنې ته اړتیا لیدل کېږي، چې د قرآني او نبوي احکامو پلي کول دي.

## ۳. د ناوړه اخلاقو ټولنیزې اغېزې

په ټولنیز چاپېریال کې د ناوړه اخلاقو اغېزې په مستقیم او غیر مستقیم ډول منعکس کېږي، دلته ځینې هغه اړینې اغېزې بیانېږي چې په مستقیمه توګه پر ټولنه پرېوځي، لکه:

### ۳/۱ د الله ﷻ عذاب نازلېدل

کله چې په یوه ټولنه کې ناروا کړنې خپرې شي پر داسې ټولنه د الله ﷻ عذاب نازلېږي، لکه چې رسول الله ﷺ فرمایلي دي: "إِذَا ظَهَرَ الزِّنَا وَالرِّبَا فِي قَرْيَةٍ، فَقَدْ أَحَلُّوا بِأَنْفُسِهِمْ عَذَابَ اللَّهِ" (الحاكم، ۱۴۰۶). ژباړه: کله چې په یوه سیمه کې زنا او د سود خوړل څرګند شي، نو دوی پر ځان د الله ﷻ عذاب نازل کړ. الله ﷻ د لوط (ع) قوم د هغوی د ناروا کړنو له امله هلاک کړ، چې په دې کې د نورو لپاره پند او نصحیت دی، لکه الله ﷻ فرمایي: (فَلَمَّا جَاءَ أَمْرُنَا جَعَلْنَا عَالِيَهَا سَافِلَهَا وَأَمْطَرْنَا عَلَيْهَا حِجَارَةً مِنْ سِجِّيلٍ مَنْضُودٍ؛ مُسَوَّمَةً عِنْدَ رَبِّكَ وَمَا هِيَ مِنَ الظَّالِمِينَ بِبَعِيدٍ) (سوره هود، آیتونه ۸۲- ۸۳). ژباړه: کله چې زموږ حکم را ورسېد، هغوی مو پر بل مخ کړل او په دوامداره توګه له اسمان څخه پرې تېږې را ووروله؛ هغه تیږې چې ستا د رب په نزد نښه ویشتونکې وې، او داسې عذاب له ظالمانو څخه لرې نه دی.

### ۳/۲ نفرت او بدبیني

د ناوړه اخلاقو له څرګندو نښو څخه یوه دا ده چې د ټولنې او امت د وګړو ترمنځ نفرت راپاروي، د بېلګې په توګه حسد او کینه کول، چې د بدو خلکو په سلوک او چلند کې څرګندېږي، څرنګه چې ځینې خلک د نورو سره د هغه شیانو له امله کینه کوي چې الله تعالی ورته ورکړي، چې په پایله کې بیا په نفرت او کرکه بدلېږي؛ ځکه کله چې یو څوک له چا سره کینه وکړي، هغه هم په خوب کې ورته غبرګون ښیي، چې ورو ورو دا کینه د کینه‌کوونکو په یوه لویه ډله او کتله اوړي. همدا راز غیبت او چُغلي هغه څه دي چې د ترسره کوونکي سره یې ټولنه نفرت کوي او کرکه ترې لري، ځکه دا د دوی د بدو او ناروا کړنو پایله او اغېزه ده چې بیا یې په خپل ځان کې ویني. همدا راز په ټولنه کې نیکان خلک له هغو فاسدو او بدکارو خلکو څخه کرکه او نفرت کوي چې په زنا، لواطت، سود، شرابو او داسې نورو بدو کړنو اخته وي. په دې توګه د فاسدو خلکو د یادو کړنو له امله په ټولنه کې کرکه پیدا کېږي.

### ۳/۳ ټولنیزې اړیکې پرېکېدل

د ټولنیزو اړیکو د پرې کېدو تر ټولو ستر لامل ناروا کړنې دي، چې هره ناروا کړنه په خپله اندازه د یادو اړیکو په پرې کولو کې خپله ونډه لري. له دې ناوړه کړنو څخه یوه هم نمامي یعني چغلي او د خبرو وړل راوړل دي، چغلي د اړیکو پرې کولو او د کورنیو او ملګرو تر منځ د خپلوی پاللو لپاره تر ټولو خطرناکه سلاح او وسیله ده، همدا راز د دښمنی او نفرت خپرولو وسیله هم بلل کېږي. رسول الله ﷺد چغلخور په هکله فرمایلي دي: «لاَ يَدْخُلُ الْجَنَّةَ

نَمَّامٌ» (مسلم، ج۱: ۱۰۱). ژباړه: نمام یعنی چوغل خور جنت ته نه داخلېږي. بله ناوړه کړنه دروغ ویل دي چې د بدۍ بنسټ او اساس بلل کېږي، په دې معنا چې درواغ د ټولو بد اخلاقیو سرچینه ده، همدا راز کله چې یو څوک درواغ وایي، د دروغو ویلو لپاره به ناسمه کلمه کاروي، چې له امله یې ټولنیزې، کورنی د ملګرتیا او داسې نورې اړیکې هم ګډوډېږي او له منځه ځي او هم بې باوري او شک زېږوي.

یوه بله پدیده چې د ټولنیزو اړیکو د پرېکېدو لامل ګرځي کینه کول دي، ځکه کله ممکن کینه کوونکی یا حاسد د ښځې او مېړه ترمنځ، د کورنۍ ترمنځ، همدا راز د ملګرو ترمنځ هوسا او ښې اړیکې ونه شي زغملی، د دې لپاره چې دا اړیکې له منځه لاړې شي، له هر توان او هرې ناوړه لارې چارې څخه کار اخلي. رسول الله ﷺ د کینې زیان داسې بیانوي: " دَبَّ إِلَيْكُمْ دَاءُ الأُمَمِ قَبْلَكُمْ: الْحَسَدُ، وَالْبَغْضَاءُ، وَالْبَغْضَاءُ هِيَ: الْحَالِقَةُ، حَالِقَةُ الدِّينِ لاَ حَالِقَةُ الشَّعَرِ، وَالَّذِي نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ، لاَ تُؤْمِنُوا حَتَّى تَحَابُّوا، أَفَلا أُنَبِّئُكُمْ بِشَيْءٍ إِذَا فَعَلْتُمُوهُ تَحَابَبْتُمْ، أَفْشُوا السَّلامَ بَيْنَكُمْ " (ترمذي، ج٤: ۵۷۳). ژباړه: تاسې ته د مخکنیو امتونو مرض راغلی دی: کینه او بغض: خرېیونکې ده، دین خرېیي نه ویښتان، او پر هغه ذات مې دې قسم وي چې د محمد روح د هغه په لاس کې دی، تاسې تر هغې مؤمنان کېدای نه شئ چې د یو بل سره مینه ونه کړئ، آیا زه تاسې ته د داسې یو شي خبر درنکړم چې کله یې وکړئ نو د یو بل سره به مو مینه پیدا شي، په خپل منځ کې سلام کول خپور کړئ.

### ۳/۴ ټولنیز خیانت

ټولنیز خیانت هم یو له بدو اخلاقو څخه شمېرل کېږي، چې د اهمیت او اغېزو له پلوه ډېره پراخه ساحه لري، چې خیانت، په وینا کې، په ترازو او یا تله کې، په حقوقو، دندو او مکلفیتونو کې، په پیسو او همدا راز په اړیکو کې واقع کېږي، نو له همدې امله یو له بد ترینو اخلاقو څخه بلل کېږي. په پیمانه او تله کې کموالی او په حقوقو او دندو کې د خیانت د بدو اخلاقو پایله ده، الله جل جلاله فرمایي: (وَيْلٌ لِلْمُطَفِّفِينَ؛ الَّذِينَ إِذَا اكْتَالُوا عَلَى النَّاسِ يَسْتَوْفُونَ؛ وَإِذَا كَالُوهُمْ أَوْ وَزَنُوهُمْ يُخْسِرُونَ؛ أَلَا يَظُنُّ أُولَئِكَ أَنَّهُمْ مَبْعُوثُونَ؛ لِيَوْمٍ عَظِيمٍ) (سوره المطففین، آیتونه ۱–۵). ژباړه: هلاکت دی (د خلکو په حق کې) د کمي کوونکو لپاره، کله چې څوک له خلکو پیمانه اخلي پوره یې اخلي، او کله چې نورو ته پیمانه ورکوي کمښت په کې کوي، آیا دوی ګمان نه کوي چې د قیامت په ورځ به بیا ځلي را ژوندي کېږي؟ همدارنګه د ناوړه اخلاقو په پایله کې د ناموس سره دوکه کېږي، څنګه چې د بدنامې لګولو (قذف) او زنا له کبله د ټولنې حرمت لمنځه ځي او دا کار هم ناروا دی، ځکه رسول الله ﷺ فرمایلي دي: «فَإِنَّ دِمَاءَكُمْ، وَأَمْوَالَكُمْ، وَأَعْرَاضَكُمْ، بَيْنَكُمْ حَرَامٌ، كَحُرْمَةِ يَوْمِكُمْ هَذَا، فِي شَهْرِكُمْ هَذَا، فِي بَلَدِكُمْ هَذَا، لِيُبَلِّغِ الشَّاهِدُ الغَائِبَ» (بخاري، ۱٤۰۰، ج۱: ۲٤).

ژباړه: بېشکه ستاسې وینې، مالونه او ناموس په خپل منځ کې داسې حرام دی لکه د دې ورځې حرمت، په دې میاشت او دې ښار کې، خبردار حاضرین دې یې غائبینو ته ورسوي. د خیانت له ښنو څخه یو یې دوه‌مخیتوب دی، رسول الله ﷺ د دوه مخي انسان په هکله فرمایلي دي: «... وَتَجِدُونَ شَرَّ النَّاسِ ذَا الوَجْهَيْنِ الَّذِي يَأْتِي هَؤُلاَءِ بِوَجْهٍ، وَيَأْتِي هَؤُلاَءِ بِوَجْهٍ» (بخاري ۱٤۰۰، ج٤: ۱۷۸). ژباړه: او تاسې به تر ټولو خلکو ډېر بد هغه دوه مخي کسان مومئ چې چا ته په یو مخ ورځي او چا ته په بل مخ. امام قرطبي (رح) وایي: دوه مخی انسان لکه د منافق دی، چې د درواغو او باطلو لارو تملق او چاپلوسي کوي، داسې کس د فساد د دروازې حیثیت لري. امام نووي (رح) وایي: ذو الوجهین هغه څوک دی چې د هرې ډلې په خوښه ځان جوړوي، داسې ځان ځرګندوي چې ګواکې له همدې ډلې څخه دی او د مقابل لوري مخالف دی، د دې کس کار خیانت، درواغ، فریب او نفاق دی، په دې کار سره هڅه کوي چې ځان د دواړو ډلو په رازونو پوهه کړي (ابن حجر، بې نېټه، ج ۱۰: ۴۷۵).

### ۳/۵ په ودونو کې نانډرۍ او ځنډ

کوم څه چې د ودونو د ځنډ لامل کېږي، هغه بدکرداري او بدچلند دی، په ځانګړې ډول د شرابو څښل، زنا کول او نورې فحشا کړنې، چې د دې له اغېزو څخه طلاق څېرېږي. د دې اصلي لامل د مسؤلیت نه احساس کول او کورنۍ ستونزې دي. همداراز، غیر اسلامي دودونه لکه: بې ځایه سینګار، د ښځو او نارینه‌وو اختلاط، د پردیو نارینه‌وو سره اړیکې او خبرې اترې، او داسې نورې ډېرې ناخوالې، د ودونو د ځنډ او بې له واده د عمر د تېرېدو سبب ګرځي.

### ۴. د ناوړه اخلاقو اقتصادي اغیزې

اقتصاد، چې د یوې ټولنې د آبادۍ او ثبات لپاره یو له مهمو بنسټونو څخه بلل کېږي، زوال یې د بېکارۍ، بېوزلۍ، شر او فساد لامل ګرځي. همدا وجه ده چې رسول الله ﷺ له فقر او بېوزلۍ څخه پناه غوښتې ده، لکه څنګه چې په یوه دعا کې فرمایي: «اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْكُفْرِ، وَالْفَقْرِ، وَعَذَابِ الْقَبْرِ» (نسائي، ۱٤۰۷، ج۳: ۷۳). ژباړه: یا الله جل جلاله! له کفر، فقر او د قبر له عذابه تا ته پناه وړم. همداراز، په بله دعا کې فرمایي: «اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْفَقْرِ، وَالْقِلَّةِ، وَالذِّلَّةِ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ أَنْ أَظْلِمَ أَوْ أُظْلَمَ» (أبو داود، ۱۳۸۸، ج۲: ۱۹۰). ژباړه: یا الله! له فقر، نېستۍ او ذلت څخه تا ته پناه وړم، او همدارنګه پناه غواړم له دې نه چې زه پر چا ظلم وکړم او یا پر ما څوک ظلم وکړي. یو له مهمو عواملو څخه چې د ملت اقتصادي چارې اغېزمنوي، هغه د ناوړه اخلاقو خپرېدل دي، ځکه چې په دغو ناوړه اخلاقي کړنو کې ځینې داسې بد اخلاقۍ شته، چې له امله یې د یو هېواد د اقتصادي ودې او پرمختګ مخه نیول کېږي. دلته د ناوړه اخلاقو ځینې اقتصادي منفي اغېزې په ګوته کېږي:

#### ۴/۱. دعایداتو کمښت

له دې کبله، چې ځینې کارکوونکي یا چارواکي په ناوړه اخلاقو روږدي وي، د عایداتو د کمښت لامل ګرځي. یعنې، کله چې د یو هېواد یا ټولنې وګړي په خپلو دندو کې غفلت کوي، یا کارونه ځنډوي، وخت ضایع کوي، او یا یې په بې‌ګټو چارو کې مصرفوي، دا ټول هغه عوامل دي چې د عایداتو کمښت ته زمینه برابروي. همداراز، د ټولنې ځینې بد اخلاقه وګړي خپلې پانګې په ناوړه او بې‌ثمره چارو مصرفوي، لکه: بې‌ځایه تفریح، د لهو و لعب او سندرو اورېدل، یا د موسیقۍ وسایلو پېرود، سینما او تیاتر ته تګ، او هلته د وخت او پیسو ضایع کول، همداراز د مخدره او نشه‌یي توکو اخیستل او کارول. دا ټول هغه کړنې دي چې د ملت اقتصاد ته جدي زیان رسوي او له مالي پلوه یې کمزورۍ کوي. ځینې مطالعات او څېړنې ښیي، چې په ځینو اسلامي او مسلمانو ټولنو کې د کورنۍ شاوخوا ۱۳ سلنه بودیجه په بې‌ځایه تفریح لګول کېږي. همداراز، د الکولو او شرابو د څښاک له امله د ټولنې اقتصادي زیان نږدې ۳۱۹۵ میلیونه ډالره اټکل شوی دی (عشماوي، ۱٤۱٤، ج۱: ۱۰۱). همداراز، څېړنو دا هم ښودلې چې، په ټولنیزه کچه د نشه‌یي توکو لګښت د عایداتو له نیمایي برخې څخه کم نه وي، او ځینې وخت خو روږدي کسان حتی پور اخیستو ته هم اړ کېږي.

#### ۴/۲. بې روزګاري

یو له ناوړه چلندونو څخه دا هم دی چې خلک د خپلو اړتیاوو د پوره کولو لپاره سوال، ګدایي، یا د خلکو مالونه ناحقه اخلي. په ځانګړې ډول، هغه کسان چې په مخدره توکو روږدي وي، ډېر ځله په دې ناوړه کړنو اخته وي، ځکه چې هغوی کار او روزګار نه لري. د یوې څېړنې پر بنسټ، د بې‌رزګاره کسانو له ډلې څخه ۱۱.۲ سلنه د همدوی برخه جوړوي (عشماوي، ۱٤۱٤، ج۲: ۸۸).

#### ۴/۳. د ټیټې کېدو او درملنې لګښت

که یو څوک ناروغ یا ټپي شي، دا د هېواد پر اقتصاد اغېزه کوي. که د ټپیانو او ناروغانو شمېر زیات شي، نو څرګنده ده چې د هېواد اقتصادي حالت به تر کومې کچې راټیټ شي. په کارونو کې خنډونه رامنځته کېږي، د درملنې او

روغتيايي چارو لپاره لګښتونه زياتېږي او نورې ډېرې منفي اغېزې رامنځته کېږي. که دا پيسې پر اقتصادي لارو چارو پانګونه شوې وای، نو د اقتصادي پرمختګ کچه به څومره لوړه وای.

کله چې د بداخلاقۍ له امله يو کس تېيي يا معيوب شي، د هغه ذهني ځواک کمزوری کېږي او د کار کولو توان يې له لاسه ورکوي. د داسې کس درملنه هم د دولت له بوديجې څخه کېږي، چې دا پخپله يو اقتصادي لګښت دی او د اقتصادي زيانونو په توګه شمېرل کېږي. همدا راز، هغه ناروغۍ چې د زنا او لواط په پايله کې رامنځته کېږي، د خلکو د کار کولو او مسووليتونو ترسره کولو مخه نيسي. بايد يادونه وشي چې دا هغه ذهنونه، استعدادونه او بدنونه دي چې د ملت د جوړولو يا ويجاړولو وړتيا لري؛ خو د دوی ناوړه کړنې د دې لامل شوي چې دوی د ملت په اقتصادي پرمختګ کې ونډه ونه لري. نه يوازې دا چې دوی د اقتصاد په جوړولو کې برخه نه اخلي، بلکې د درملنې، درملو، روغتيايي بستر، ډاکټر او روغتون د لګښتونو له امله د ملت اقتصاد ته زيان رسوي.

## ۴،۴ د رشوت له لارې د منابعو تخريبول

الله ﷻ د ناوړه لارو له لارې د پيسو ترلاسه کول منع کړي دي، لکه چې فرمايي: ﴿وَلاَ تَأْكُلُوا أَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ وَتُدْلُوا بِهَا إِلىَ الْحُكَّامِ لِتَأْكُلُوا فَرِيقًا مِنْ أَمْوَالِ النَّاسِ بِالْإِثْمِ وَأَنْتُمْ تَعْلَمُونَ﴾ (سوره البقرة، آيت ۱۸۸). ژباړه: او خپل مالونه په خپل منځ کې په ناحقه مه خورئ او دا مالونه حاکمانو ته مه رسوئ، ترڅو د خلکو د مالونو يوه برخه په ظلم او ناحقه وخورئ، حال دا چې تاسې پوهېږئ. همدا راز ابن عمر رضي الله عنه روايت کړی چې وايي: "لَعَنَ رَسُولُ اللهِ ﷺ الرَّاشِيَ وَالْمُرْتَشِيَ" (أحمد، ١٤٠٥، ج٢: ١٤٦). ژباړه: رسول الله ﷺ په رشوت ورکوونکي او اخيستونکي لعنت ويلی دی.

رشوت اخيستل يوازې دا نه دي چې يو چا واخيست، ګټه يې ترلاسه کړه او خبره پای ته ورسېده، بلکې کله يو څوک چې وړتيا نه لري، د بډو په بدل کې د دولت يا يوه ارګان په مهمو پوستونو د نااهلو کسانو د ګمارلو لپاره رشوت اخلي، يا يو نااهل شخص د بډو ورکولو له لارې ځان په داسې پوستونو ګماري. دا کار د وخت او استعدادونو د ضايع کېدو او د توليد د کمزورۍ کېدو لامل کېږي، چې په پايله کې يې د هېواد اقتصاد زيانمنېږي. د نااهلو کسانو لپاره چارو سپارل، رسول الله صلى الله عليه وسلم د قيامت له نښو څخه بللي دي، لکه چې فرمايي: « إِذَا ضُيِّعَتِ الأَمَانَةُ فَانْتَظِرِ السَّاعَةَ، قَالَ: كَيْفَ إِضَاعَتُهَا؟ قَالَ: إِذَا وُسِّدَ الأَمْرُ إِلىَ غَيْرِ أَهْلِهَا، فَانْتَظِرِ السَّاعَةَ» (البخاري، ١٤٠٠، ج١: ٣٧).

ژباړه: کله چې امانتونه ضايع شول، نو د قيامت په تمه اوسئ. صحابي وپوښتل: امانتونه څنګه ضايع کېږي؟ رسول الله ﷺ وفرمايل: کله چې چارې نااهلو کسانو ته وسپارل شوې، نو د قيامت په تمه اوسئ. رشوت ورکوونکی او اخيستونکی نه يوازې خپل مال ضايع کوي، بلکې د نورو حقوقو او اقتصاد ته هم زيان رسوي. په ادارو کې رشوت خوړونکي د پيسو په بدل کې نااهلو کسانو ته پروژې سپاري. کېدای شي له تاريخ تېر شوي واکسينونه، درمل يا نور داسې توکي چې د انسان روغتيا ته زيان رسوي، د رشوت په بدل کې ووېشل شي. دا ټول هغه څه دي چې د رشوت له امله د ملت اقتصاد او روغتيا زيانمنوي (سلطان، بې نېټه، ج ۱: ٦٧).



## ۴/۵ د توليد کمښت

په دندو کې د اخلاص او امانتدارۍ نشتوالی د توليد د کمښت، کيفيت د خرابوالي او مهارت د نشتوالي لامل کېږي. کله چې اخلاص او امانتداري موجود وي، هر څوک کولای شي په خپل مسلك او مسووليت کې پوره هڅه وکړي، زيار وباسي، د خاوندانو حقوق پوره کړي او وړ او مستحق کسان له خپلو حقوقو څخه محروم نه شي. الله جل جلاله د خيانت څخه د منع په اړه فرمايلي دي: ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لاَ تَخُونُوا اللَّهَ وَالرَّسُولَ وَتَخُونُوا أَمَانَاتِكُمْ وَأَنْتُمْ تَعْلَمُونَ﴾ (سوره الانفال، آيت ۲۷). ژباړه: ای مومنانو! د الله جل جلاله، د هغه د رسول او خپلو امانتونو سره خيانت مه کوئ، حال دا چې تاسې د خيانت د پايلو څخه خبر ياست.

همدا راز رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي: "أَدِّ الْأَمَانَةَ إِلَى مَنِ ائْتَمَنَكَ، وَلَا تَخُنْ مَنْ خَانَكَ" (أبوداود، ۱۳۸۵، ج۳: ۸۰٤). ژباړه: چا چې درته امانت سپارلی، هغه ته يې وسپاره او که چا له تا سره خيانت هم وکړ، ته يې ورسره مه کوه. کله چې په يوه ټولنه کې امانت او امانتداري له منځه لاړه شي، په داسې ټولنه کې خيانت، فرېب، غولونه، دروغ ويل او د خلکو د تجارت زيانمن کېدل عام شي. دا ټول د ملت د اقتصاد د کمزورې کېدو او حتی له منځه تلو لامل کېږي. له همدې امله په اسلامي تعليماتو کې خيانت د منافق له نښو څخه شمېرل شوی دی. لکه چې رسول الله ﷺ: "آيَةُ الْمُنَافِقِ ثَلَاثٌ: إِذَا حَدَّثَ كَذَبَ، وَإِذَا وَعَدَ أَخْلَفَ، وَإِذَا اؤْتُمِنَ خَانَ" (مسلم، بې نېټه، ج۱: ۷۸). ژباړه: د منافق درې نښې دي: کله چې خبرې کوي دروغ وايي، کله چې وعده کوي ماتوي يې، او کله چې امانت ورته سپارل کېږي خيانت کوي.

### ۴/۶ د مال ضايع کېدل

د ناوړه اخلاقو له ډلې څخه يوه هم د بېلابېلو او ناسمو لارو له لارې د پيسو او شتمنيو ضايع کول دي، لکه اسراف کول، د پيسو قاچاق او داسې نور. له همدې امله په اسلامي ارشاداتو کې له اسراف څخه منع شوې ده. الله ﷻ فرمايي: ﴿وَلَا تُسْرِفُوا إِنَّهُ لَا يُحِبُّ الْمُسْرِفِينَ﴾ (سوره الأنعام، آيت ١٤١). ژباړه: اسراف مه کوئ، ځکه چې الله جل جلاله اسراف کوونکي نه خوښوي. له بلې خوا، موږ وينو چې ځينې د مخدره توکو سوداګر، د دې لپاره چې مرګوني توکي خپل هېواد ته وارد کړي، د ډالرو او پيسو په قاچاق لاس پورې کوي (عشماوي، ١٤١٤، ج۱: ۱۰۱). دا کار د يوه هېواد مالي او بشري اقتصاد ته ستر زيان رسوي.

### ۴/۷ د معالجوي مخنيوي لګښت

د ناوړه اخلاقو پر وړاندې مبارزه، لکه زنا، غلا، رشوت، قاچاق او د نشه‌يي توکو مخنيوی، د امنيتي ادارو له لوري د دغو کړنو تعقيب، د پېښو مخنيوی او د مرتکبينو نيولو لپاره دولت اړ دی چې ډېرې پيسې ولګوي. که دا ناوړه اخلاقي فسادونه شتون نه درلودای، نو همدغه پيسې به دولت په انکشافي پروژو لګولې وای، چې د هېواد اقتصادي پرمختګ يې سبب کېدای شو. خو د دې ناوړو پديدو له امله يو هېواد د خپلې اقتصادي بوديجې ستره برخه له لاسه ورکوي.

## ۵. پايله

په پايله کې څېړونکی هغه مهمو پايلو ته اشاره کوي چې په دې څېړنه کې ورته رسېدلی دی. دا پايلې په لاندې ټکو کې په لنډه او روښانه توګه بيانېږي:

### ۵/۱ مهمې پايلې

۱. ناوړه اخلاق هغه هر بد او ناپسند صفت دی، که هغه قولي وي، فعلي وي او که اعتقادي.

۲. په اسلامي امت باندې د ناوړه اخلاقو کورنۍ اغېزې د مسووليت له منځه تلل، ناوړه اولاد او مشران، بدنامي، کرکه او بېلتون، او د نورو د عزت سپکاوی دي.

۳. په ټولنه کې د ناوړه اخلاقو اغېزې د الله تعالی د عذاب نازلېدل، کرکه او بغض، ټولنيزو اړيکو پرېکېدل او ټولنيز خيانت دي.

۴. ناوړه اخلاق د عايداتو کمښت، بې‌روزګاري، ټيټې کېدل او د درملنې لګښتونه، د توليد کمښت او د مال ضايع کېدل لاملېږي.

### ۵/۲ مهم وړانديزونه

۱. د څېړونکي په نظر، دا يوه خورا مهمه موضوع ده. په پوهنتونونو کې بايد محصلين پر دې موضوع د ماسترۍ يا دوکتورا په کچه بشپړې علمي څېړنې وکړي.

۲. علماوو او خطيبانو ته پکار ده چې د منبرونو له لارې خلکو ته د نيکو اخلاقو اهميت ورسوي او د ناوړه اخلاقو له پايلو يې وويروي، ترڅو خلک له بدو اخلاقو څخه ځانونه وژغوري.

## مأخذونه

۱. قرآن کریم.
۲. ابن حجر العسقلاني (بې نېټه)، فتح الباري شرح صحيح البخاري (د عبد العزيز بن باز په تحقيق)، بيروت، دارالمعرفة.
۳. ابن حزم، ابو محمد علي (۱٤۰٥ هـ)، الأخلاق والسير في مداواة النفوس، دوهمه چاپ، بيروت، دار الکتب العلمية.
٤. ابن القيم الجوزية (۱٤۰۸ هـ)، مدارج السالکين بين منازل إياك نعبد وإياك نستعين، دوهمه چاپ، بيروت، دار الکتب العلمية.
٥. ابن منظور، محمد بن مکرم، (بې نېټه)، لسان العرب، بيروت، دار صادر.
٦. ابو داود، سليمان بن الأشعث (۱۳۸۸ هـ)، سنن أبي داود، بيروت، دار الحديث.
۷. احمد بن حنبل، (۱٤۰٥ هـ)، المسند، پينځمه چاپ، بيروت، المکتب الإسلامي.
۸. البخاري، محمد بن إسماعيل (۱٤۰۰ هـ)، صحيح البخاري (په تحقيق د محب الدين)، قاهره، المطبعة السلفية.
۹. الترمذي، محمد بن عيسى (بې نېټه) سنن الترمذي (په تحقيق د أحمد محمد شاکر)، مکه مکرمه، دار البار.
۱۰. الحازمي، خالد (بې نېټه)، مساوئ الأخلاق وأثرها على الأمة الإسلامية، رياض، وزارت الشؤون الإسلامية، د مطبوعاتو او علمي څېړنو اداره.
۱۱. الحازمي، خالد (۱٤۱۸ هـ)، المشکلات التربوية الأسرية وأساليبها العلاجية، مدينه منوره، مطابع الرشيد.
۱۲. الحاکم، النيسابوري (۱٤۰٦ هـ)، المستدرك على الصحيحين، بيروت، دار المعرفة.
۱۳. الحمد، محمد إبراهيم (بې نېټه)، سوء الخلق: مظاهره، أسبابه، علاجه، رياض، وزارت الشؤون الإسلامية.
۱٤. العشماوي، السيد متولي (۱٤۱٤ هـ)، الجوانب الاجتماعية لظاهرة الإدمان، رياض، المرکز العربي للدراسات الأمنية.
۱٥. مسلم، أبو الحسين، (بې نېټه)، صحيح مسلم (په تحقيق د محمد فؤاد عبد الباقي)، قاهره، دار الحديث.
۱٦. نايف، وليد شلاش، (بې نېټه)، مشکلات الشباب والمنهج الإسلامي في علاجها.
۱۷. النسائي، أحمد بن شعيب، (۱٤۰۷ هـ)، سنن النسائي بشرح السيوطي. بيروت، دار الکتاب العربي.